مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوځ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۵ / ۰۳

# د وینا د ازادۍ ورځ

نن د مۍ درېیمه،
د وینا د ازادۍ ورځ ده.
په دې ورځ له هغه هېوادونو پوښتنه کوم
چې په دوحا کې يې د امریکا- طالب ترمنځ
د افغان جمهوري حکومت په غیاب او خلاف
د تړون د لاسلیک ننداره کوله.
نن ولې په افغانستان کې د روان ناورین په اړه
ټول په یوه خوله چوپ دي!
دوی د طالب د هغه مشر(ملا هیبت الله) په اړه
چې هیڅا نه دی لیدلی او د دغه تړون په مرسته،
پر افغانانو غیابي حکومت کوي،
افغانانو سره ولې د داسې ناورین پر ضد،
غوځ او پرېکړې اقدام او غږ نه پورته کوي؟
همدغه هېوادونه په سر کې يې امریکا،
د وینا د ازادۍ په نوم،
بیا غواړي،
نړیوالو ته په نوې بڼه فریب ورکړي!
**موږ د بیان د ازادۍ ورځې هرکلی کوو،**
**خو نن باید ټول موږ سره په ګډه،**
**په ریښتیني ودرېږي!**
د ۲۰۲۳ کال د مي درېیمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ